

Ketabton.com

# وړانګه

یوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندي
بیا پیری په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورانګه

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهررحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ
د هغه ټولو همریالو
چې د بنیادمو د حقونو ځنې
تېځندې د پښو ځولانې او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت
ته ورجګوي او ژوند نور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نور[1] بېدى شي

ځان په ښش ولې ليکه[2] کړي
چې په شتوکې اودرېدى شي

څه په سر آسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدى شي

په مټ څه لره سرپه ده
چې په مټ نړغونېدى شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خېز نښترېدى شي

د پېړو[5] ټل[6] ته ولې پلى[7]
له بريالو چې ملېدى[8] شي

د بازادار هنر دې نه نړ ده
که نه يې چتي بازېدى شي

ليت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول وجه کېدى شي

---

۱- نورېدل = بدلېدل، ۲- ليکه = حساب، ۳- خرډک = يوبوټى، ٤- سود = مطمئن

۵- پېړه = ماتې خوړل، ٦- ټل = ډله، جمعيت، ۷- پلتل = يوځاى کېدل، ۸- ملتل = مل کېدل

که سواره لوی فرعونان دي
که کلیم[ع] شي کوڼېدی شي
د برې لاري بند نه دي
که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میړنکارانو
ګډ په وینه کې د ځانانو
بیاد ختوکوکوشتان ټول
الوتونکی باتوران کا

○

د کلیم دودونه خپل کا
ړانسکوره زور جهان کا
پربباسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چې میړه خپل دی
ټینګ په ننګ او په خپل خېل[2] دي
د زمرو ماړېچي[3] يې ژوند دی
چې د شنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خېل = هوډ، ۳- ماړېچي = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې
ترمې وینې هم رامبېل[1] دی

د خپل تک دي پاتې شوي
په کولنډه[2] دی که په ښکېل دي

رشی خنګه بې کوندۍ[3] شي
چې څانګۍ[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبیب به دې څنګ روغ کړي
چې بې چارې د شا خېل[6] دي

چې د دروزې[7] بې تښې وي
په وینو پړانه غلبېل دي

چې جامه بې کاسیرې[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګۍ[10] وروستۍ ده
مشرۍ که په چارخویل[11] دي

---

۱- رامبېل = یوګل، ۲- کولنډه = کټخه چې دغوېې، څاروي څټ ته یې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کوندۍ = کانې کتې - خلپل، ٤- څانګۍ = درې غابې ٥- رشپېل = چې دغلې رشی پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خلیل کوي یعنې څرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو دنډ - تیلی، ۸- کاسیرې = بد لمنی ۹- چېل = پروني، ۱۰- انګۍ = یوه لوبه چې وایي انګۍ انګۍ مل دی څوک دی ،
۱۱- چارخویل = قرقره

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئبل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" تول آذرخیل دي

○

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ځوند په هر اړیکی وي چې
کلیمي ته یې اړتیا ده

○

د جهان د سمام[3] پېښې
وړي تندي باندې مېړونه
د ملځي نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاخون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

۱- سادین = اړولی ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرقار چې لرو بر کړي
بلالي رض هغه بانګونه[1]
چې دا ځمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړ ورړه وي
دننګيال په مټ، په توره
دلته ار دخښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
دننګيال دمزري زړه وي
تورخنګلونه[2] خوندي وي
حق ننګي يې غرين کړه[3] وي
ساه يې واچوي جوش[4] کې
له پيړو پيړو چې مړه وي
دناحق وره[5] بتول پره کړي
وره هغه کړي، چې تل پڅ وي

---

۱- بانګونه= آذانونه، ۲- تورخنګلي= باطل کاره، ۳- غرين کړه= قلا- سنګو
۴- جوش= تنه ، ۵- وره= بريالي.

د ګیدړ په اوړو نه شي
چې په غرمب د ښتو زمرو شي
په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منښتو[1] نه بودېږي
چې په وینو په خولو شي
چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له توتکو شي!
ننګیالي یې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي
د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هوډیالو شي؟
دراسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لینګو شي
دژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو توریالو شي
د ځیرک میړانه کله
له درست کلي د رندو شي

١- منښته = زیار، تونوته دورو د پاره په ځان ځه منل، ٢- نارام = ناغیږ- ناراست.

چې رنځور باویږې[1] وکړي

پو چې هیلې د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!

کله بې سود په کورکوشي

د ځانګو د کوچنی نمڅری[2]

پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمرد رونا وي وي

رون په څنګ په اورګو[3] شي

عقل څه خوني اُتي دی

راسوړی[4] په خپلو ملو شي

د ځیرک سر پوره والی

د حږي په سیپاروشي

چې له مال خبره واوري

پت په سربانديِ پاله شي

کائنات چې په منګل کړي

داسې سړی باله شي

---

۱- باویږې = بابیږي = د نا روغی بیا تاندیدل، ۲- نمړی = جامې، ۳- اورګی = اوربلکی
۴- راسوړی کیدل = راکرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوښتې نه تلې ضبا څوک
هم یو «زه یم» به تاله شي

ښکلې هغه چې ښېوه(۱) يې
یو د «زه یم» په پساله شي

زه یم هر کله ځلمي دي
دې وجود چې زور ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي
چې دا ځمکه یو کاله(۲) شي

په یولوی سین کې غرلی
چرې، چر، لښتی، ویاله شي

○

د کتاب حد ماتی مه شي
هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خیره نه وي
ورانوه لارې زړې

حق به هله مېشته وکا
لومړې غیر چې وشړې

یا سرې یاد څرې شه
حق ناحق ولې ولړې

---

۱- ښېوه = دول - ښایسته والی، ۲- کاله = کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیبنا کیان چې له مینځ ورک شي
پرکنې به شي مړي
لوی آتیان لکه او(۱) کړ کړي
د جګ غر تیرې وړي

○

ستور ځار کو د وار کسي
په ځار لوکړل تناکې
نوی وټ بي چرته بیاموند
برد ستورو په دنیاکې

○

له کاروینو او له شګو
سره زر وښکل کېږ(۲) یکرو
الوول حق وناحق دي
څنګ تر اوسه ستړکو رو؟

○

د بوذر(۳) د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

---

۱- اوکره د ځار وود خوړلونه وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تانتې، ۲- کیږ ګره کیږ ګوونکې

جوړوي د ښېښو مېنې[1]

ځېرکان خوښېبه کړوي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوختو مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی

يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود دې څه دئ؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه اتوولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- د بړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکی نه جوړ - چې کډونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه توکي
دبریښنکو غوني دي
او بریښنکو ته چي ځیر شي
تشي ترقنده ښپي دي

◯

دین همه واړه سره زر دی
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندی غور ځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

◯

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چي جَب جوب شول په خولوکي
ځارله هغو توریالیو
چي په ښېر دي سرخیړ(۱) وکي
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلو کي
ساده ګوري ملغلري
ځسا ډنډوکو خرخوړوکي

---

۱- سرخیړی = سرپړه ، ۲- غوړه = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې ګواښې په سترګو کېږي
تر هغو زوړه څه نېږوکې
څه ناویا ته چاره وکړه
مېرنیه! په تلو تلو کې

ګوړېمار[1] چې د ېمبل وو
هغه سر په مُونډو[2] دی
کړولی[3] چې یې د باز وې
پڅلو لکو په شوغو دی
چې د برېد او د غدې وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې پرې ښایسته وې
هغه شرم د جرګو دی
چې څښتن د لوی اخور وُ
اوس د پوچو کښېدو دی
د تیرو تورو بوْر[4] ګی وُ
د بې سترګو د کنډو[5] دی

---

۱- ګوړېمار = داتمان د مخې په لوبه کې په ېمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننګې ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بڼت د تپلې خمې نه ښکته وچې کښې لوېږي، ۳- کړولی = د ښکار
ځیرکولی، ښارلود پاره د باز تاوېدل راتاوېدل، ۴- بوْر = زمرۍ، ۵ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځنې نامینده
## څه د خوشو عقیدو دی.

◯

بازداري پولوي هنر دی

ته په یو بیله[1] بازداري

چې نه لرې جمبې

په نامه باندې میشکاري[2]

تش غر بازو وته ناستې یې

څه که ځوږې د لوی بلارې

ته میر ښکاره کړین غواړې

په ښه ښه مرداري

یې په تومنه له ویاړلو

خو په چارو کې د ویار[3] یې

له قرآن په غیر هذا

بې صلوة مونځ گذاري

کله سر گریوان ته کوز کړه

چې داولې دومره خواري؟

---

۱- بیله: د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره یې لاس ته اچوي، ۲- میشکار: بازوان، ۳- ویار: شرم.

چې پښتولنه قرآني وي

دا سرې به شهسرې[1] وي

دا تنزري تاروګي به

بیا بازونه وهندي وي

دا پربوتي، دا انسټ[2] به

بیا ښښترې آسماني وي

چې نومرې په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د ننڅ شخولي[4] او کاتې[5] به

صبا توري او توبري وي

په ونډې[6] ځمکې د ننڅ به

نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي

نه به پولې، نه بېلتون وي

نه نها، نه زمايي وي

یو آدم، یو آدمتاله[7]

په کښېن رنګ به یو رنګي وي

---

۱- شهسرې = سترسرې، ۲- پربوتي انسټ = بوټي دي، ۳- آدمځی = د آدم زامن،
٤- شخوله = درسته، ٥- کاتې = تیکي، ٦- ونډې = داسې حلال کړې ځلوی چې پکې خلقو برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنې (ځمک زي یا آدم زي) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمځوني[1] به يو کور وي
وران به کور کې کورکي وي
درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسي[2] وي
نه مړيي نه به څښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي
نه کاواک، نه به بې واک وي
چې الله به ټولواکي وي
ټولنوال به ټولنوال له
رب، رحيم وي، او ولي وي
هم به يې کسب خالقي وي
هم توره[3] به يې رازقي وي
وی پاځون لکه يو تن به
يو ټاله به مختګي[4] وي
له ختيځه تر لويديځه
به يو ستره ورورولي وي
په حدو نود کتاب کې
به د عقل خپل مښخي[5] وي

---

۱- آدمځوني = ځمکه، ۲- جس = ورتيا، اهليت، ۳- توره = قانون - توره - ترلې لاره - لاره، ۴- مختګی = مخکې تګ، ۵- خپل مښخي = خپلواکي - آزادي.

سين، د غاړو په درښنت به
تل تر تله غرځنګي وي
يو ځاړېږي به له ټولو
ټول له يوه به لوګي وي
له قبلو دې کډه وړو
به يوه کعبه موندي[1] وي
له زړه اور اورکو به
د ځړي يو رڼايي وي
سرې ټول به سره سيال وي
په فطرت[2] به يې ستړاکي وي

ستا خيرې درست کائنات دي
ته لاکوز په خرخشوي[3]
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمينځه په دښنوي[4]
ژوند له تنه کډونيز[5] دي
ته ځان ځانې به ترخوي

---

۱- موندي = راکسل ناوي. د غوبل د مينځ غوبي، ۲- فطرت = نيچر. د بنيا دم نرپتر نوري ټول کائنات. ۳- خرخشي = جنګونه، ٤- د ښنه = دښمني، ۵- کډونيز په کډه هستيدونکي.

څمکه یو کور څکه نه شه
ته ترېن د کورکوي
یوکور[1] په واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلوي
دیوې حجرې زېږنده
د حجرو په بیل کلوي

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کاټولي
دا خواره واړه قامونه
ستامرام یو وروولي ده
نه ملکري ملتونه
یوبېرغ په څمکه جګ کا
کوز کا واړه بېرغونه
داوسلې د مرګ لاهوکا
سُر د امن کا تارونه
پدې څمکې - آدمځوني
بیا برسېرکا جنتونه

---

۱- کورمه = کورنۍ.

يو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

○

زول چاپېره سور الوزي
ډېر ویزاره راپرېوځي
له دې چې قند نا تاربه
هم پاخه ښځې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینګو وځي
راخوړه شي پرې دلوړو
اور په خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه ګیر د کتاب ګوره
د همه قامونو لر دی

---

۱- سرتوره = دسر قانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

د زرداړو په تښـــرلنې
دې کښتونکي په بايلـــــنې
د شته منو شــته منې ده
د نيستمنو له نه بيښنـــې
د ماړو کوښې[1] جــوړېږي
د تش بانو[2] له شــــرمنې
د زردار مـــانۍ ولاړې
د کارګر په تــنې پــلنې
د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لاســـو په ريمـــنې[4]
بده ورځ د لـرلنـــــګرو[5]
دازل نه دی ليکـــنې
د باطل تولنـه پايـــې
د مذهب په سروينځنې[6]

---

١- کوښې = پيزار، ٢- تش بانې = نيستمن، ٣- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤ - ريمنه = خيرنه - خيچنه، ٥- لولنګر - بې ځمکې - چې ځمکه يا دو پټـــ
نه لـري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وکړي تول که آذري غواړي
ښخښتن له تا نه خلیلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولو له
واړه وختونه کلیمي غواړي
په تشو تیکو که کتي کېږي
د ننګ ډکولا شه حلمي غواړي
وکړي ټول سر قوي او پايي
حق د میړه غوندې ځوندې غواړي
ښکیلاکي عمرد خاروودي کوري[1]
ځوندی آدم به مخ کښي غواړي
د ا باسین خونړي نیز او چلي[2]
د جالیوانو سرهنګي غواړي
په هسک او تل د حقیقت لټول
تل سربېري لیوني غواړي
چې د ښخښتن لاره د ب کولي شي هم
ځوندا سي زین او هک سري غواړي

---

۱- وکوړئ = خبردار ، ۲- نیز او چلي = سیلاب او چپې .

○

د هګ قامونو په خرخشوکې
وارہ قامونه بې هیڅه دل شي
د میکیاولي د شهزاد کانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکو نه به پرې ناتار کړي
کله چې که تولې زمري ته تهل شي
غښتلي متې د ځان کلا ده
کمزوري متې د ځان اجل شي
که سر ببري هو دیالي پا ځي
په ریزکو[1] به د اهګ بدل شي

○

چې د حق سره په لار دی
لکه حق هسې بې ښار دی
چې د حق دلاری ببل دی
په دنیا، په آخر خوار دی
یو ویار[2] لي د حق رنګ دی
بل هر رنګ آخر دو ګیار دی

---

۱- ریزکی = کوچنی- ورو کی- ناشی، ۲- ویار= شرم- پیغور.

چې تیغه[۱] کې حق ته ولاړ دی

د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل «زړه» نا روزونکی

خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که ګوري

ګل ورین هم تناړ چار دی

په تولو چې د تول ژوند دی

حق او ښکلی هغه کار دی

چې د خیرد آدمزاد دی

نو په خدای هغه مخدار[۲] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې

شیخ ملي وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تپي وي

لرې برې نورې لرې

د تولنو د لرمون به

زرینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش - کړه وړه - نقش -

۲- مخدار = رویدار - دروند.

شی څورلی خلقی به

بې دولیتی[1]، یوه ځری[2]

درپه درخاوري په سر به

پرکښې وي لولنګري

د هټولنولو ښوور دا –

خپلو بدوله اشري

عقوبت په غرغنډو شي

چې دکیا[3] وي اورد سري

تاله تک د ادم اړ دی

په یو ورځې برابري

چې پرې دروې کائنات ټول

ستا هم هغه لارمخبري[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

○

دا چې خان خانتوره[5] بولي

دا چې هرچېرته شمله دی

نیسمنان په کمنده[6] نیسی

واپي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه ځری = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوکی کوي،
٤- مخبری = په برمخ، ٥- خانتوره = خان چې ترل پرانستل کوي چې دتوری خان وي،
٦- کمنده = کم ذات - کم اصل - کم سیال

له ازل، وايي برياليو
نور په برخه شاګند(۱) دي
دوی له مخ د خدايه رغ(۲) دي
نور له پښو يې زيږ نده دي!
کومه نوره يې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د نېستمنو کوم ګناه دی
چې نيمګړي، نيم کوره دي؟
او په هره يو ستولنه
پره، پرهوتي او روږه(۳) دي!
که د اصل کړي پوښتنه
آدم زی ټول يو حجره دي
له يوې حجرې راغلي
قام، قبيل، تپه تپه دي
لوړ زور دی له زبيښاکه
شته په نيشو(۴) آلوده(۵) دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمن را زرغونه دي

---

۱- شاګنده = چې شايې لګېدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روږه = تباه.
٤- شته او نيش = شتمن او نېستمن، ۵- الوده = لښتې - اخته

له شته منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور د ښته
په پاڅون آخر موسیٰ شي
دباطلو ښامارانو ټول
تار پتاري له امسا شي

○

عقل لیت دی، ډیوکی ده
پرې قدم قدم روڼیږي
کلیمه هغه شهلیت(1) دی
چې ټول ښروند پرې جوتیږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توري هرکله ښروندي دي
د وختونو په آسمان کې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړو پیړو کاروانه — نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چارې — چې پیړۍ پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن(۱) سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توری نېزې رنګ کړي
هو ډیالی نېزه باز کوره
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تپرې ته
د زړګي(۲) زمری غورځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې څنګ کړي
ننګ په حق با ندې کوونکی
لکه ځان با ندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بیا ورپاشي جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره رېب د ستړګو کې په ډک کړي
حیرکان یې په لیتون کې ترغمرونو سر غوندک کړي

---

۱- پلن سوری = په پساره پلن، ۲- زړګی = پر هلو ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړ بنجړ[1] ژوندینکی
یو مونډی[2] زه یم او ده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوهه نړی
څه پیر مخی[4] رغانه وی
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مړی هداېره وی

○

د بدلون پدی ناتار کې هم یو ”زه یم“ دې خوندې دی
که صورت دی یو اړتیا ده نو دا ”زه یم“ دی مونډی دی

---

۱- انجړ بنجړ = الوول، ۲- مونډی = راکس، ناوی، ۳- څاندره = هڅتړ- فریم سکلیټ، ٤- پیر مخی = پیر خوږونکی، بدلیدونکی.

○

پیرخواره[1] یې له پښو یوسي
چې مونده یې وي اومړی[2]
د کچبه "زه یم" آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړی

○

د آدم له "زه یم" پرته
نور هر څه چې دي نوړپړي
له هر زبړپړی[4] د حجرې نه
لکه ځان هسې رازبړي

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د "زه یم" په غبرګون دی
که وجود دی که سټولنه
کار د "زه یم" یې پاڅون دی

○

چې د "زه یم" په شړنګ نه دی    روزنګړی[5] د بدلون دی
د حجرو په کیچ کې اوسي    او د سترکو تش الون دی

---

۱- پیرخواره = پیو خوړونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
۴- زبړپړی = هغه څه چې زیب ول کوي، ۵- روزنګړی = روزنه کوونکی - لویوونکی.

ټول فطرت یې خوري تالیږه(1)
آدم ئې جدا جدا وړي

دځاني سود غم خوړونکی
له حق لاري پښې پښا، وړي

چې په نور و خپله ویش کړي
خپلې برخې نه سیوا وړي

چې مشال نور وته جګ کړي
خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ یې دواړه سنګلي
دځورلو چې دعا وړي

چې له خپل میړه آګاه وي
دبشر درنې په شا وړي

اوښتون(2) دژوند جامه ده
چې شي لټ، په هغو واوړي

---

۱- تالیږه = په جمع - تاله.

۲- اوښتون = انقلاب.

دژوندون په لویه لارکې
مشالونه بلول دي

دتیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي

کتابونه د بېدرد جهل
سوزول او بادول دي

دآدم نه دې یادکړي
دعمرونو هېرول دي

که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نیش کول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې
چې بُتان دی لړول دي

په هرپل دپرمختیاکې
برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نېش کول = ورکول- په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سندان تندي به چېرې کروڼې شي
د ړندو پلکو نو جوړ که پرې نانا روي

د مېړه نيستي يو څو ورځې نيستي وي
نه مېړونه شاعري نيسمن او خوار وي

د ړند و عقيدو خلقو کې هېش له
ښېښتنان د غرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتې[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې توره[2] د حق ملانو[3] خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې وړله بويه
که رڼا يې لاړ ليدلو له پکار وي

درباب خواره دې نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتی = ورکوټی مرغی

۲- توره = قانون - لاره - منه

۳- حق مل = دحق ملګری

٤- ميلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسين کله پښنه نيسي له غورځنګه
چې ترڅو د ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپسې نه شي څنګ له جنګه
پوهګړی د بې پوهو نه قلنګ خوري
او ټول لاندې د کليمو تر قلنګه
چې يې مټ د غليمانو وي کسلی
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډنګه
د مړدې توره ميدان کې لا سنه کېږي
خلاصه نه وي يا د کاټي[1] توره له زنګه
په خپل زړې کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لا کوټي[2] خاورينه رنګه
چې يې جسم وتن په مور کوپه پړواوري
خود مغه ته وي کرنبې د جهان تنګه

---

۱- کاټي = تيکی - چړتون
۲- کوټي = د داني کڅوړه

یو بری د یو جنګ غالی دی خوندي که
بیا په بل میدان بریښنا او تالندي که

چې دلوی ښتن د لاسوسره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که

په حجرو په جماتو نوکې تورتم دی
د ډېوې غوندې لنبه دې په تندي که

د میړه د ځوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به یې څنګه په تولنه کې ګوندي که

چې د خپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به څنګ هغه وګړي راژوندي که

له غوجلې د څارو و به څنګه وځي
چې په مینه مینه څپ ته غوړوندي که

چې یې ویښ د زړورې له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاک ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوښتې ته دغاړې
له خپل تنه پلوا[۱] بنه شه
د ټېپانده اباسين خپل
لکه غاړې په ساته شه
د کرېز سختې په ځان کړه
پسته باز په الوته شه
په خپل ځان قيد ونه کېږده
زرغونه شه او بيا شته شه
پولې ړا بنکه ، پانکې[۲] کېږده
بيا په زغا بنت لکه مېړه شه
د ښبښتن دلارې مل شه
له ښبښتن ځنې لا[۳]رغه شه
په رېبلوچې ورکې نه شي
په لوبنه[٤] لکه وا بنه شه
دختيځ له الا الله -
لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلوابنه = مروړې- پلکوابنه ، ۲- پانکې = مېړ- ډکې - مرام
۳- لارغه = لرغونې - وړاندې ، ٤- لوبنه = خصلت - خوى

په ټولنو لیوګان که دي

هروګړی لوی اوکړ(۱) دی

لولنګو ځکه په نیش دي

درناوی چې په دوتر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

ځوک تاله، ځوک تالانګی دی

چې درنه دله(۲) یې مله(۳) ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

ځوک یې موږ، ځوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د ځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډګیا(۴) سوسر(۵) دی

---

۱- اوکړ = اولال، ۲- دله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ٤- ډګیا = لوګی. کوونکی، ۵- سوسر = د دړو سپیاکو اور چې نری نری لوګی کوي.

چې يې زړه سنګي بډې مټې
وابه نه خلې تورې څټې

په ګڼو نويې پسرلي شي
چې څوک ونغري يا سکروټې

خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايې د نيکه ګټې

د يوه ماته، باقي سوې
د تورګټ سوې دېوټ يې

نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو ختې يې !

دا ميدان د تېرو تورو
ستا مصرې تورې دې سمټې

چونګ ايره يې پاتې شوې
وې انګار د درنې ستې

حق ننګ نو ته وريتې بې
د بې ننګ هر کاله بتې

لات منات چې ګوذارې څوک
شي پخپله يې خپې ګټې

خرې، ځکه شوې، خیالي نه شوې
د «لا» شی څنې شی نه شوې

د جنس ترغی نه نا مینده
تل نچه شوې کنی نه شوې

تشه شخوله - خالي تیکی
بمبل توره، توبری نه شوې

له حجرې تر سرې راغلي
لاپه «زه یم» سرې نه شوې

له مذهب چې ملستل دی
لدې مرینې ژوندی نه شوې

انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زری نه شوې

مینګیری درته آسمان دی
ځکه باز، باتورزی نه شوې

هر آدم چې دی فرعون کړ
پې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زرې- نقش
۲- ځانوکی = ځانواکی

○

د وکړو سالار پروت دی
خر سواره چې شاهسواران کړي
د کوښو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
کوکوشتان دا و موخته و
سندان سري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړوپېچ ۱ واړه یو ځان کړي
چې سړي پې نه سړی کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
دلالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر پېږي
را د بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ټول
په رېښتیا مسلمانان کړي

---

۱- اړوپېچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د هر کلونه راټوکېږي
سرې پوپینو دلاله یکې جوړه ده

ننګیالي دي چې دلوی څښتن په تاري
پوره کړې د نړۍ ټوله باره[1] ده

ته تنزړې يې، د نیاده د بازونو
ډېرې ځکه ژوندون دی اداره[2] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه ګوي یې
زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هوښیایي[3] په ټپوړوند دی، ښکار تړنشي
که نه يې نن هم پرته هغه دوګزه ده

دګرزي[4] غشي دې هر وخت په سر دی
په دیدوان[5] باندې دي اره پره، وره ده

صبا ابنکه د شولان ګټوته منتي
که دې نن ګټلی قام لږ اوکړه ده

---

١- باره = مسئولیت - ذمه واري - پړه، ٢- اداره = ورانه - ګټې - لوټې،
٣- هوښیایي = ښکاري، ٤- دګرزي غشي = دوړې پرې ګوزار،
٥- دیدوان = شیش - څیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کور هسې يې غار
لکه اوښ هسې يې سوري
لکه پښه هسې پيزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار
لکه زړه لوئ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
ښه هومره څومره کار
داوچت الوتو پانګې
د شهپرو په مقدار
د ډيوې رڼا تر کوره
نمر په ټول جهان اوښار
د بې ننګه په ننګ د ډېر وي
ننګيالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا پې ډېر وګړي کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو ندا خستلې
سورلنډي[1] شي کله ښکار
د اتیانوس باري وي
په ملغانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدایي چارو ونه کار

○

مذهبونه دي پوچ شوي غربېنونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چې مذهب یې رواښته[5] کړېدي هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دي عبث د انځورونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډي = ګیدړ، ۲- کړمار = یوغردی، ۳- غربین = یو ټوپک،
٤- راتاندون = بیاراغبرګېدل، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب يې چې تو دي وينې کتکل شوي

مسلمان بايلل ملګـرونه سـنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته

لګولي يې په نيش دي ـــ امتونه

د مذهب دغونډلانو[1] تنستو کې

ګل ډيوکي[2] دي دعلم د يـوستـونه

له مذهبه هګۍ ځلمي ټول ريزکي شي

ريزکونه کله کبرېي لـوی ـــ کارونه

ټکی ټکی دکتاب نن هم هغـه دي

خو مذهب تري نه وښکلي دي ساهونه

چې ترڅو دغه مذهب او داملا دی

وي تالابه د تـالا قـامـوسـوخونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده

توربازي دی تيغ بندي ده

له باطل دځان زغـــوروني

يوه لاره ملا بنـدي ده

---

۱- غونډل = غټ غمی

۲- ګل ډيوکی = دګل ډيوي

له فطرته دي پرده ده

له فطرت دي سرزوري ده

کلیمه دي سرتوب دی

سرتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کلیمه بیا خلق ژوندي که

دا اله وارو ورستو شوي بیا لومړي که

دا چې خاوري يي له مخه نه چاڼېږي

د سپوږمۍ په دود څوڼه يي پرځندي که

ورونه وروڼه سره غوښې په چاړه کړي

له ټولنیز ژوندونه ورکه ګوند ګوندي که

شاه میړونه له زړګونو ستوري تیر شول

بېړې را ښکه خپل ملګري ګرندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کرپندي که

د پسرلي درنه ورځه شه په خوی کې

ځان وړښت، کله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوړو کاګیره تلل نه ده
دا ایلتیانو[1] کلي وړانول نه ده
د راسمانو يې سمول نه ده
که اونډي جونډي[2] د دوپړک[3] وي
د يکرنګانو غوڅې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب يې ځای ته برخېژول زده
چو رنکو رکان هم کړاو لي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان يې موږي[4] کران کړي
نو کلیمان يې تور نه نول زده
د آذرانو بتکورکي[5] تړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - وړانی پیداکوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړوني چې غوڅې رښې نه وي، ۳- دوپړک = دوړنګ - منافق، ٤- موږکي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړي ډک وي، ۵- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په ښو شهپرو خپلولو
مښکیرک او غلیواز نه باتورېږي
دیو بُت په لړېدلو بُت غلیمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدلېږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړوکی
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کېږي
چې په پړو کودي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي
چې د زهرو ډک لښتي پرې راسواړه وي
دغه سوي چنارونه نه تاندېږي
د قرآن واړه رښتلی عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهېږي
د تیرو سړو ملستې بناپیرکۍ نن
د رڼا په تتکی مړکۍ ته ببرېږي

○

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي پې سلامت یه
مرئیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کره غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی
یومخیزي[1] ځیګر ور ځوانان غواړي

کشالي غوښتني نوري د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیشتینکو کېتې نه شي
د ژوند ستونځې میړني قهرمان غواړي

په یو ماره که کاوزشي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي یا نوی ماری زمریان غواړي

---

١- یومخیزی = چې مخه یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلیز[1]
کراولې کړي، یرغلونه کوي
لوګین[2]، اوړیزه[3] که یې لاره نیسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
بریښ دژوندی تومن غونه کوي
د آدم کار دی کائنات پرنه ول
برهغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت یې ده لتی اړولې
د هسکو سترګو معاشونه کوي
عقل بهیر کړغور ځنګی دشعور
ویر ویرانی ټول مذهبونه کوي
پیاده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلیز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګین = دګازو ریځ یا نیبولا،
۳- اوړیزه = هغه نیبولا چې ستوري یې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګې، فطرت په ترڅې
تشې ځانډې وي، زور يې اوبه وي
عقل يې شل وي، هڅې يې کټه
په غتو ګوري، ولې ړانده
نه پرې وداند، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو قط نه وځي
نه يې خوابه وي، نه يې تراخه وي
په نن په "زه يم" د وارو نيستمن شي
ځواک د پخساک يې خواره او خسبنه وي
په زاره شخوند کړي، نوی ترې نه شي
نوی بريد و نه خود ميره وي
چې يې راغونډ کړې واره کرلي
د يو ګنجکي دا زربنت نه وي

د لوګينو د لړمون نه

اوړين ستوري راغونډيږي
ستورتيليږي سروهي لا
كائنات لا پراخيږي
كه يو ستورى ورژيږي
نوى سل راولټوكيږي
د ژوندون زرغونيدو له
نوى ځمكى سادينيږي
چرته ژوند دى په بخښنچه
چرته كچ، چرته ځوانيږي
د زرها ستورو ميروكې
د ژوندون غبرى غنيږي
يوه ستا داځمكه نه ده
چې ساه داريكې هستيږي
شنخرې ځمكې سنكته بورته
ستورتلينوكې څرخيږي
هغه ځمكه ستا دوتر دى
چې دې لاس وررسيږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کړې په سر کېږي
د مېړونو ستوري بېړۍ دي
له سپوږمو ستوړو تاوېږي
د یونوي کور لټون کې
د آسمان لاري چاڼېږي
عقوبت دا ځمکني به
ستورکۍ زو ته وړسېږي
د ژوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي (۱) پاینده هغه اوښتون شي

لاالا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې کړې په ملکونو

کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نه بهېبونکې هله ورک شي

دربړیا (۲) اولس چې کله په پاڅون شي

د اویارلي ځلي هسې ولاړ نه دي

د مړدۍ کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریږي

قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هر څومره سنګرونه له ځان تاو کړي

عقوبت د ځمکې تبې هر قارون شي

چنیشني (۳) عقیدې چې غاړه باسي

د هغو خلقو تولنه مړیستون (٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چنیشني = چې چنا سکې یکې شوی وي، ٤- مړیستون = هدیره .

د دوران په زلزلو غرونه رارغړي
په شکلني ډېروکي څه له وياړېږې

تلناوونه يې رواسته، موږ يې خوړلي
چاڼ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږې

د ړنسبتر په چورلندو ځمکې له تللي
کچه دېلي! په خپل خېژڅه غلطېږې

د سورسين چپې دمه وښکه له يادو
اې فرعونه! چې کليمؑ پسې پاڅېږې

د ملخ ځانګ سړه دې ملاشوله دوه غبرګي
ته لا ځې د اَتي بارته لاندې کېږې

لاالٰه بتکورکوته سنګرپوکل دی
که مؤمن يې تر ورستي بُت به جنګېږې

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وکړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بروړته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هري سرخېرۍ[2] وتلي سر شي

د هر کور انغري تود، تیاره شي وړکه
مېړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[3] د عیسی چې نمړې وخوري
که د ختو کوګوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چیني هم د بدر لېچور شي

---

۱- لړه کوز
۲- سرخېرۍ- د جنګ غالی سرپه
۳- تونګ- شکور

دغليم د بريدا وچيغي[1] حاجت نشته
لاس ترکړي وو چې پخپله سنګروال شي
دکور، قام بدخوږمنځي[2] په ځان ناتار دی
په تيغه که باتوران وي تش پيڅال[3] شي
تانک د کېتی، د یرغل يې د لاس وځي
چې دچا راتلونکی توري نه اتال[4] شي
ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه
دروند لو چې څوک نه وي کوټي لال شي
جماتونه، مدرسې او چيني د ير شول
خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

چې دخاورو له کالبوته
او ده «زه يم» برسېرن شي
په اجل باندې جل را شي
بنيادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = ايه ، ۲- بدخوږمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ ، ۳- پيڅال = د باتورغل - غړبازه ، ٤- اتال = په طمع - پهاسره - معطل - ايسار .

○

دژوندون دغورځنګونولوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ اونه آسمان دی

دفطرت غېږه پرانستې ده هرچاته
بود هرچا هم په قدردخپل توان دی

داپه تاده جوړوې کانې که توره
خپور چاپېره دجنګړو واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې تولې اړ په مټ دي
مټ کول دبنیاد موږ پوره په ځان دی

چې یې زده دسورکو وینو کښېدې دي
دهوهي ډیښه کمي پدې جهان دی

دباتورلڅي دنیا ده بېله بېله
یو دځوړې، بل دلوړې وږی[1] ښاڼ دی

چې سرمزي دنوښت[2] یې په لاس درکړ
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- وېږی ښاڼ = وږی انوونکی، ۲- نوښت = پیلات - ابتکار

چې د "زه یم" ټول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غونډې چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه مې چې یو مخ شي
"زه یم" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې
لکه بُت سلګون سرې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسرکې
د هوډي هڅې و باسي لاري غرکې

توربرېښنونه یې پخپله غماز کړشي
میړه کله پټېدی شي په لښکرکې

"ستوروونا"[1] کړنې د ځمکې کړله ماته
شنځوي بیرغ د ستوروخپل دوتړ کې

مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدی څادرکې

نړوي خوږه په یوماري وړپېوځي
بله ماره یې نیولې وي نظرکې

مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د میړونووي سنګرکې

هره ونه خپله میوه نیسي
چامونډلي دي کروسکي په کیکرکې

---

۱- ستوروونا = (یوه زن د مرجونا) د ستوري وشکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړدار هغه کورکښان دي
چې ګړوندي بنیادمان خوري
سړیخور په پټه یې نه خوري
سبه برسېر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري
یووَری یې په شا پروت وي
بل شنې لښتې بارګیران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمته یې بې کسان خوري
روایات راپاخېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
دآدم په بدې ورځې
کلیمان واړه خپل ځان خوري

چې په منډه د هغو دیالوځي

لاړې یې خود کړې پې کړې وي

چې په څرخ باندې سورې شي

د هغو تورو لاشې وي

چې له اوره ځني ونه ځي

نو هغه پېژې اومې وي

له چپو چې انګوځه شي

پولادي هغه سینې وي

چې جنګ ړیږې ژوندانه وي

د برم د کې یې شملې وي

چې د متې مجال یې نه وي

د هغو ناندرې کیلې وي

د باتورو هسې ګوره

څه که یو موټی بنې وي

چې وهي د تنګسې تورې

په هغو کله تنګسې وي

چې ژړیا نې یې تاو نه شي

نو هغه لیندې پرې وي

چې وهي د تنکسي تورې
په هغو کله تنکسي وي

سپوږمی، ستوري، ستور تیلیږي
د میړونو برآمـــتي وي

د سرهنګو غورځنګونه
د تاریخ زرزریـــنې وي

د اخلاص د شاهسوارانـــو
مـنزل لوی، لـرې توښې وي

چې منګل یې دزمرو وي
د هغو مارې ســـکې وي

په ږاسمنو باندې غـــرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناوړي ســـنګر بایـــلي
ویښې سترګې پلیـــتې وي

دونګه تښتي ګڼ پرګانه
چې د بدرتږیـــسي وي

د میړونو لوی لاســـونه
خپله تورې او بلـــې وي

د ګیدړو په نصیب کې
دزمـــرو پاتې درنـــګې وي

---

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې

د هغو دا کې سپېرې وي

چې له ژوندہ ماتې وخوري

زور یې ټول په موسلې وي

د مړ شوا کو مسئلو کې

هم د مړو مړینې کیسې وي

کوښې هم ځان سره کوږ کړي

چې یې خپلې پښې کږې وي

دیو روغ د سیالۍ نه وي

د ړندو که پرګنې وي

قام دلې دلې تورو توربرېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر دلیت خپلې دلې ته سنه وایي
دغه دستور د دله بازۍ دی

پلویان راوړي، ناحق په حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د لیړه دی

چې "جرګه غړي[3]"، ټول شته منان وي
واړه هیواد دی ونډې ونډې دی

کاواکه دروغې واکمنې دلې
څوک چې د مخې دکاواکۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سیځلی لاړ ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکی = دیموکراسي.

۲- قامي جرګه = پارلیمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شروند یې د کتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلي ناوښکي په سمڅو، په لغمونو
بمبل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "ډنګ قامتو" سراوښکلي
سالاري یې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپیره یې د سینه سرېټوب ډنګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملازی ورکړه
خپل پردی یې په نمانځنه باندی رنګ دی
د زیارت خوړو ته ناسته بې کتابه!
ستا کور، لاری ولایت د پلی لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دی
او مُلا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه مومن کې
د تسپو سره ګرځوان یې له ناکام دی

(c) kitaabee.com: The Digital Library

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي ډکه
چې یې خم پخپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړي توري تر هېري، څي په ډډه
چې مُلا ور ښکاره کړي کوم اسلام دی
لیشتکی له لیشتکی مفکوري زیږي
ځان وګوره په جهان دې څو مړ سام دی
مذهبونه په کړي د نیمسـانو
د شته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څروندی مال یې میرات دی
څه یې کچه ناروا دي
دي دېولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
دا د لاد دوران سـر دی
دو تریان چې په کړ بـا دي
د هغولیچې تاوېږي
له پیرونه چې په غلا دي
له زمـا، له زمانې نه
پساتونه په دنیـا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لېسين تر ېلاس نيوکړي
شاه ميړونه د الله دي
امانت د اوليا دی
چې له تا ځني سوا دی

○

چې د حق او د باطل د غره راشي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي
چې توره[1] يې د بتانو لړول وي
خدای دې وکوماری ته هغه ميړه شي
چې يې غل غدو له ويرې بلوسه کړي
په مور چلو د قام ويښ هغه ليمه شي
چې مړه واکي ولسونه پرې رغيږي
که يې سل ځله توکې، هغه تاريخ شي
څه زړغې زړغې کوي چاقهرمان ته
که ملا وتړې، هغه توريال به ته شې
غرونه غرونه واورې هله به شي ويلې
چې د نمرپشان پرې سوړ په ايشېدو شي
چې يو پلار کنې وماتې اولس توول
ته به هم د اولسياسو په وله[2] شې

---

۱- توره = دستور- قانون، ۲- په وله = په ډوډۍ - په بنه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان نيځ کړ
بيا به هله د سرې په نوم باله شي

○

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشې بيا پلوشېنې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
د ازغوغېږې ګلورينې شولې
د پلار خېرې دې کائنات دې واره
کاش چې دې تورې بيا پلرينې شولې
با تورزي خپله به راوزيږي وي
که د پروکې دې مابښېنې[1] شولې
غړاو راغه يې شيخ ملي ونيول
چې د زمري ستوګې تندرينې شولې
د تورانې لېونې کړيکې سره
ځانګې غړانګې سندرينې شولې
چې بيا په رحل دې کتاب وځاته
ذرې بې ارزه دې نمرينې شولې

---

۱ـ مابښ = يوغر

کلیمي لره شړوندي زړونه پکار دي
او وله لویتي په پنده کله پیدا کیږي

په خوږ لن کي له بخرکو توغېدونکو
تو آسمان ښه به کوونکی او تاند بېږي

چې ښانو د تنې وچ، ځیلي زړوستې شي
په کږوږو شیبونه راتو کیږي

د مذهب په کږ خوږلو لختو لهړو
د سرسوري دقامونونه جوړېږي

هک ځلمی بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولشتکو نه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه
لارې نه شي رښوولی
د بوزړو انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

○

د شړوندون اوږدې کیسو له　　کائنات به چاڼول وي
له موجود ځني پېښسا به　　ترلوکیږي پورې تلل وي

○

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي
چې پرې کسرې وي وختونو
ګویا ځان له توزیږ(۱) کړي
د کوړونو، کفنونو

○

دباطل سره په جنګ کې
نه نیم سول شته، نه سړ شته
د خلیل ع مټ دې تود اوسه
د آذر چې بُت کړه شته

○

د هندو عقیدو سبار کې
انقلاب رابرسیړن شي
د زړو خدایانو مــخ چې
ولسات ته کـرغېړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبې
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په وړشو کې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

